سردار محمد همدرد ۲۰۱۵/۱۰/۱۴

# آزاد د مدني مبارزې ربښتيني ځېره

شهيد قاضي محمد اسماعيل آزاد د مدني مبارزې هغه ربښتيني ځېره ده چي، ساری يې ډېر کم ليدل کيږي. که څه هم په افغانستان کي مدني هڅې او مبارزه ډېره مخينه لري، خو د مدني ټولني له نوم او اصطلاح سره خلک تر ډېره نا اشنا دي.
په وروستيو کلونو کي چي افغانستان د نوي پرمختيايي نړۍ پر لور ګامونه پورته کړل، مطبوعات رامنځته سول، ورسره سم ځينو فعاله او ويښو ځوانانو بېلابېلي ټولني جوړې کړې او مدني هڅې يې پيل کړې چي ځينو سمو او پر ځای مدني ټولنو او د دغه ټولنو غړيو او د دوی کارونو ښې پايلې ورکړې او تر اوسه يې کارونه سم دي خو ځيني بيا د مدني ټولنو له نوم بده ګټه واخيسته، چي ټولني يې تر ډېره پروژه يې وې، د يو چا لپاره يې کار کوه چي اوس هم دغه ډول ډېري ټولني شتون لري چي موږ او تاسو يې خپله وينو او له ولس نه سي پټېدلی.
ربښتيني مبارزه او مبارزين هيڅوک نه هېروي، د دوی کارونه هر چا ته ځرګند وي، زموږ په ټولنه کي اوس هم ډېری ځوانان او د ويښ ضمير خاوندان سته چي پاکه مبارزه کوي او له پاکي او سپېڅلي مبارزې يو ډول خوند اخلي.
د دغه پاکو مبارزينو په کتار کي يو هم ارواښاد قاضي محمد اسماعيل آزاد ؤ، نوموړی د مدني مبارزينو ربښتينی استازی و، کومي تمې او هيلي چي له مدني ټولنو او مدني فعالانو کيږي هغه صفتونه ټول په قاضي محمد اسماعيل آزاد کي موجود ؤ، هر وخت يې د ولس د حق لپاره مخامخ، رسنيو، ګردي مېزونو، غونډو، ولسي لاريونو او پاځونونو کي فعاله ونډه اخيسته او تر بل هر چا به مخکي حاضر و.
نوموړي يو پاک شخصيت درلود، که څه هم له غريبي کورنی څخه ؤ، په مادي لحاظ يې څه نه لرل خو خدای ج ښکلی معنوي ژوند ورکړی و، فکر يې سم ؤ، د خلکو لپاره ډېرې هيلي، ارمانونه، تمې او اميدونه لرل. د هر ظالم په مخکي به يې پوره جرأت خبري کولې او د دې ولس روا حقونه به يې تري غوښتل، پر نيمګړتياو به يې نيوکې کولې، ملي ارزښتونو او ملي شتمنيو ته ژمن و، خوا يې پرې بدوله، اسلامي او کلتوري ارزښتونو دفاع او ساتنه يې موخه وه، چي همدغه ټول د يو پاک مدني فعال صفات دي.
همدغه سپېڅلتوب زه له شهيد قاضي محمد اسماعيل آزاد سره اشنا کرم.
نږدې دري کاله وړاندي چي مو کله هلمند کي د هلمند مدني ټولني بنسټ کېښود، نو سملاسي يې زنګ راووهه، مبارکي يې راکړه، ويې هڅولم، د ژر ليدو هيله راځخه وکړه چي بايد ووينو.
څه موده وروسته زه پلازمېني کابل ته ورغلم، هلته مو سره وليدل، ټولي خبرې يې پر مبارزې، يووالي او رسالت باندي کولې، تر ټولو لومړی يې راته وويل: پاکه او سپېڅلي مبارزه وکړئ، ټولنه مو له هر ډول معاملو پاکه وساتئ، د هيچا ګوتڅنډني ته مه وارخطا کيږئ، په دې سره به له يوې خوا تاسو بريالي ياست او بل پلو به درباندي ولس باور پيدا کړي. څه موده وروسته هلمند کي د وخت د اداري لخوا د هلمند مدني ټولني ځينو غړيو ته ګواښونه وسول، رسنی راباندي وترل سوی، په ځانګړي توګه د هلمند ملي تلويزيون. زموږ آواز او خبرونه به يې نه خپرول، شهيد محمد اسماعيل آزاد راته وويل، له هيچا مه ببرېږئ، موږ درسره يو، ستاسو مبارزه به حتماً ځای نيسي.
په ډېرې خواشيني سره بايد ووايم چي آزاد صاحب اوس زموږ په منځ کي نسته، هغه شهيد سو، هغه خپل ډېر ارمانونه او هيلي چي د دې ولس لپاره يې لرلي قبر ته يوړې. زه د هغه له مرګه په داسي حال کي خبر سوم چي له هېواده د باندې وم.
دا چي ارواښاد قاضي محمد اسماعيل آزاد پاک مبارز انسان ؤ، د خدايي خدمت روحيه يې کي ژوندی وه، له ټولو مدني بنسټونو او مدني فعالانو هيله کووم چي د نوموړي هيلي او ارمانونه چي هغه د دې ولس لپاره لرل، بايد پوره يې کړي، د هغه په څېر مبارزه دې وکړي او پر پل يې پل کښېږدي.
د دغه ډول مبارزينو او پاکو مدني فعالانو ياد به تل ژوندی وي او مبارزه او فکر به يې د دې ټولني او ولس پر ذهنونو او فکرونو خپور وي.
د ارواښاد قاضي محمد اسماعيل آزاد پر ګور دې نُور سي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ